د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت
Ministry of Transport & Aviation

۱ گڼه
۱۴۰۲ کال

# د ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله

علمي، معلوماتي، او فرهنگي خپرونه










- شهید امیرالمؤمنین ملا اختر محمد منصور(ح) او هوايي چلند
- مالي او اداري معین حافظ انجنیر صدیق الله عابد سره مرکه
- د هوايي دهلېزونو تاریخ
- الفبای هوانوردی
- بعضی از دستاورد های وزارت ترانسپورت و هوانوردی
- د لومړني انسان د الوتنې کیسه
- گلبهار خان د افغانستان د هوايي چلند لومړنی عمومي مدیر

## مورچه و قلم

مورچه ای کوچک دید که قلمی روی کاغذ حرکت می کند و نقش های زیبا رسم می کند. به مورچه دیگری گفت این قلم نقش های زیبا و عجیبی رسم می کند. نقش هایی که مانند گل یاسمن و سوسن است. آن مورچه گفت: این کار قلم نیست، فاعل اصلی انگشتان هستند که قلم را به نگارش وا می دارند. مورچه سوم گفت: نه فاعل اصلی انگشت نیست؛ بلکه بازو است؛ زیرا انگشت از نیروی بازو کمک می گیرد.
مورچه ها همچنان بحث و گفتگو می کردند و بحث به بالا و بالاتر کشیده شد. هر مورچه نظر عالمانه تری می داد تا اینکه مساله به بزرگ مورچگان رسید. او بسیار دانا و باهوش بود گفت: این هنر از عالم مادی صورت و ظاهر نیست. این کار عقل است. تن مادی انسان با آمدن خواب و مرگ بی هوش و بی خبر می شود. تن لباس است. این نقش ها را عقل آن مرد رسم می کند. مولوی در ادامه داستان می گوید: آن مورچه عاقل هم، حقیقت را نمی دانست. عقل بدون خواست خداوند(ج) مثل سنگ است. اگر خدا یک لحظه، عقل را به حال خود رها کند، همین عقل زیرک بزرگ، نادانی ها و خطاهای دردناکی انجام می دهد.

مولانا جلال الدین محمد بلخی




DOMESTIC TERMINAL

# د ټرانسپورټ او هوايي چلند

# مجله

معلوماتي علمي او فرهنګي خپرونه


د امتياز خاوند: د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

خپروونکی: د عامه اطلاعاتو او نشراتو رياست

مسئول مدير: نورالله غازي

کتنپلاوی: امام الدين احمدي، حکمت الله اصفي
ظفرخان عاطف، محمد نعيم صالحی

عکاس: روح الله هنرجو

ډيزاينر: محمد هادی قاسمی

پته: انصاري واټ، ملي راډيو ټلويزيون ته څېرمه
د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

اړيکي شمېره: (+93) 020 29 23 240

ټويټر: @DChlnd

ويبپاڼه: www.mota.gov.af



◆ يادونه: له سرليکنې پرته د نورو ليکنو سپيناوی د ليکوالانو پر غاړه دی.
◆ د مجلې له مقالو ګټه اخيستنه د سرچينې په يادولو سره جواز لري.

# په دې ګڼه کې لاندې موضوعات لوستلی شئ


سرليکنه ۱

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام پيغام! ۲

شهيد امير المؤمنين ملا اختر محمد منصور(رح) او هوايي چلند ۳

مالي او اداري معين حافظ انجنير صديق الله عابد سره مرکه ۷

د هوايي دهليزونو تاريخ ۱۰

د لومړني انسان د الوتني کيسه ۱۱

الفباى هوانوردی ۱۴

ګلبهارخان د افغانستان د ملکي هوايي چلند لومړنی عمومي مدير ۱۶

**بعضی از دستاورد های وزارت ترانسپورت و هوانوردی** ۱۸

د چين هيواد لومړنی مسافر وړونکې الوتکه ۴۵

# سرلیکنه

دا چې انټرنېټ ټوله نړۍ سره یوه او وړه کړې ده، په دې وړه نړۍ کې هر کس په منډه ښکاري او په همدې منډه او ځغاسته کې یې په یوه شېبه کې پر ډېرو ځیزونو سترګې لګېږي، چې له ځینو تېرېږي او ځینو ته تم کېږي او یا تم کېدو ته اړ کېږي، نو له دې ټولو ځیزونو سره په خوا کې کتابونو او مجلو هم په دې وړه او ګړندۍ نړۍ کې خپل ځای موندلی دی او لوستونکي یې هم پیدا کړي دي؛ مګر له دې سره سره بیا هم کاغذي کتاب یا د کتاب هارډ بڼې خپل ارزښت له لاسه نه دی ورکړی چې نه یوازې په افغانستان بلکې په ټوله نړۍ کې د پام وړ مینه وال لري. د دې لامل دا دی چې کاغذي کتاب او مجله خپل ځان د انسان په واک کې ورکوي، یوازې خپلې پاڼې، سرلیکنې، جملې... ورباندې ویني او لولي، خپلې پاڼې ورباندې لمس کوي او د سترګو له سترړیا پرته د خوښې متن په پوره اسانۍ سیده د انسان په ذهن کې کېښوي، چې دا خوبي بیا PDF کتاب او مجله نه لري، مګر د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت دې دواړو بڼو ته توجو کوي، هم به د مجلې سافټ بڼه له خپلې ویبپاڼې خپروي او هم هارډ او چاپي بڼه.

د تېرې اداري د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت د "ټرانسپورټ" په نوم مجله درلوده، دا چې اوس یاد وزارت د ټرانسپورټ او هوایي چلند دواړه خدمتونه ترسره کوي، نو پرېکړه وشوه چې د دې وزارت اوسنۍ مجله به د ( ټرانسپورټ او هوایي چلند) په نوم خپرېږي.

د ټرانسپورټ او هوایي چلند په مجله کې به د دې وزارت لاسته راوړنې، په یاده برخه کې نړیوال پرمختګونه او په همدې برخه کې تاریخي، پوهنیزې او علمي مقالې خپرېږي، چې دا به له یوې خوا د وزارت کارکوونکو په ظرفیت لوړونه کې ګټور تمام شي او له بله پلوه به د ټرانسپورټ او هوایي چلند په برخه کې د علمي موادو تشه هم ډکه کړای شي، چې همدا مقالې او څېړنې به تر دې لا ښو علمي مقالو او لیکنو ته لاره پرانیزي او د دې برخې څېړونکو او محصلانو ته به ښه برابر شوي مواد وي.

د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت دې ته ژمن دی چې خپلو هیوادولو ته د ټرانسپورټ او هوایي چلند په برخو کې پوره اسانتیا او پراختیا رامنځته کړي او په دې لاره کې خپلې کړنې او پرمختګونه په روښانه توګه له ولس سره شریک کړي، د دې مجلې د خپرېدو یوه موخه همدا ده تر څو د دې وزارت کړنې له خپل ولس څخه پټې نه وي، بلکې له ټولو پرمختګونو او له روانو کړنو څخه یې په پوره توګه خبر واوسي.

# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د محترم مقام پيغام!

**بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

**ٱقْرَأْ بِٱسْمِ رَبِّكَ ٱلَّذِى خَلَقَ** (العلق-۱)

دا چې د انسانانو لاربنود او د ټولو علومو سرچينه (قرآن مجيد) د اقراء په کلمه پيل شوی دی، همدې ارزښت ته په لېدو ويلی شو چې د اسلام په مبارک دين کې د لوستنې ارزښت ډېر اوچت دی. همدا لوستل دي چې موږ مجهول پرې معلوموو او په دې برخه کې لازمه پوهه پيدا کوو او همدا کلمات دي چې پيغام لېږدوي او پيغام بيا د يو څه په اړه فکر منځته راوړي. دا چې افغانستان په وچه کې را ګير هيواد دی او بحر ته کومه لاره نلري، خپل مناقلات د وچې له لارې د ځمکنې ټرانسپورټ په واسطه کوي، لا تر اوسه هم زمونږ ځينې ولايتونو ته تګ او راتګ ډېر ستونزمن او ډيری لارې يې صعب العبور دي، چې د وخت په تيرېدو سره په دې برخه کې پرمختګ او اسانتياوې رامنځته شوي دي. که په افغانستان کې د ټرانسپورټ او هوايي چلند چارو ته کتنه وکړو، مخينه يې تر يوې پېړۍ اوړي. په دې يوې پېړۍ کې به دا چارې حتماً له بېلابېلو پرمختګونو او ننګونو سره مخ شوي وي. موږ تر څه حده د ټرانسپورټ په برخه کې د کافي معلوماتو د نه شتون دا تشه احساس کړې ده؛ نو غواړو چې د دې وزارت کړنو او همدارنګه علمي، څېړنيزو مقالو او د نننۍ نړۍ پرمختګونو ته په "ټرانسپورټ او هوايي چلند مجله" کې ځای ورکړو او دا خلا په سمه توګه ډکه کړو. دا چې اوس د انټرنېټ دور دی او هر څه په غړيزه، ليکنيزه، تصويري او ويډيويي بڼه خپريدلای شي، چې طبعاً د دې اغېز ډېر او سترګې ترې نشي پټيدلای او موږ دې برخې ته هم پام کړی دی؛ خو له دې سره د دې متونو د ورکېدو او ضايع کېدو وېره هم شته، ځکه چې په انټرنېټ کې په سافټ بڼه د معلوماتو شتون له ګوانښه خالي نه دي او تل يې د لاسه ورکولو وېره موجوده وي، پر همدې موخه د چاپي مجلې ارزښت کم نشو ګڼلی. د ټرانسپورټ او هوايي چلند مجلې په چاپ سره به مو خپلې کړنې هم هيوادوالو ته ښکاره کړي وي او په يادو برخو کې به مو داسې اهم معلوماتي مواد هم راټول کړي او خپاره کړي وي، چې د راتلونکو لپاره د لارښوونې لامل وګرځي او د يوې معتبرې مرجع په حيث به ترې ګټه پورته شي او په دې برخه کې به زمونږ ارشيف هم غني شوی وي. پر همدې موخه د دغې مجلې د چاپولو توصيه کوم او محترم لوستونکي يې لوستلو ته رابولم.

**د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست**

**الحاج ملا حميدالله اخندزاده**

# شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور(رح) او هوايي چلند

ملا اختر محمد منصور د الحاج محمد جان زوی په ۱۳۴۷ل کال د کندهار ولایت میوند ولسوالۍ په بند تیمور کلي کې زیږېدلی دی. په اوه کلنۍ کې یې د خپل پلار په لارښوونه د کلي لومړنی ښوونځی او د کلي په جومات کې ځینې زده کړې پیل کړې.



د شهید امیر المؤمنین ملا اختر محمد منصور(رح) مزار

د ده کورنۍ د بلوچستان په ګردي ځنګل پنډغالي کې اوسېده، دیني زده کړې یې هم د څه مودې لپاره په همدې پنډغالي او بیا د پنج پای په سیمه کې ترسره کړې. له دې وروسته د کوټې ښار ته ولاړ او له څه وخت تېرولو وروسته یې د عبدالله خان کراس سیمې اړوند په یوه مدرسه کې دیني کتابونه ولوستل، خو د ده په زړه کې چې د دیني مینې لېوالتیا په غورځنګونو وه، د همدې موخو د ترلاسه کولو لپاره پېښور ته ولاړ او هلته یې د دیني علومو وړه دوره بشپړه کړه.

## مبارزه او سیاست

کله چې په ۱۳۵۹ل/۱۹۸۰ز کال د شوروي اشغالګرو د افغانستان پر پاکه خاوره یرغل وکړ او افغان مجاهد ولس د هغوی پر خلاف وسله وال پاڅون پیل کړ، مولوي منصور چې کله اتلس کلن شو نو د یوه غیرتي مجاهد په توګه یې په شعوري ډول له خپل دین او هیواد څخه د دفاع په موخه وسلې ته لاس کړ.

په۱۳۶۶ل/ ۱۹۸۷ز کال کې د کندهار ولایت ژړۍ ولسوالۍ د سنځري په سیمه کې د روسانو په یوه ستراتژیک مرکز په مخامخ عملیاتو کې یې بدن ۱۳ ټپونه خوړلي وو. په دوهم ځل بیا په ۱۳۷۶ل غويي/ ۱۹۹۷ز کال د مۍ په میاشت کې د مزار شریف په هوايي ډګر کې زخمي او په همغه ټپي حالت کې د مخالفینو

له لوري اسير شو. په ۱۳۷۱ل کال د کمونیستي نظام تر سقوط وروسته یې د داخلي جګړو تر پیلېدو راوروسته، د خپلې جبهې د نورو مخلصو مجاهدینو په څېر وسله پر ځمکه کېښوده او د واک پر سر په ناروا جګړه کې یې د هیڅا پلوي و نه کړه. کله چې په ۱۳۷۳ل کال د امیرالمؤمنني ملا محمد عمر مجاهد(رح) له خوا د افغانستان اسلامي امارت بنسټ کېښودل شو، منصورصاحب له پېښوره راستون او د خپلې ډلې مشر وټاکل شو.

## د اسلامي امارت د لومړنۍ واکمنۍ پر مهال یې دندې او مسئولیتونه:

کله چې امارت د کندهار ښار ونیو، شهید ملا اختر محمد منصور د کندهار د هوایي ډګر مسئول وټاکل شو او له دې سره یې د هوایي ځواکونو د هوایي مدافع دنده هم پر مخ وړه. د ۱۳۷۵ل کال کې د کابل له نیول کېدو وروسته د هوایي چلند او ګرځندویۍ وزیر وټاکل شو او د دې تر څنګ ورته د هوایي مدافعې د عمومي قومندانۍ دنده هم وروسپارل شوه. ده د کابل هوایي ډګر او اړوندې ټولې ویجاړې شوې برخې له سره ورغولې، د آریانا افغان نړیوال هوایي شرکت کرښه یې د کورنیو او نړیوالو الوتنو لپاره پرانېسته. د ده په هڅو د کندهار، هرات، ننګرهار، مزار شریف او کندز هوایي ډګرونه د هر ډول ملکي او هوایي الوتنو لپاره چمتو شول. په هغه وخت چې شهید منصور د هوایي چلند وزیر و، ډېر ښه مدیریت یې وکړ، په نشته امکاناتو یې هوایي چلند ته ډېر کار وکړ.




د کورنیو جګړو پر وخت ویجاړې شوې الوتکې، چې شهید منصور د کورنیو او بهرنیو انجنیرانو پر مرسته ترمیم او ځینې یې ګټې اخیستنې ته وسپارلې.

ده وکولای شول هوايي حريم خوندي او هغه ملکي او نظامي الوتکې چې تخنيکي ستونزې يې درلودې، د بهرنيو او کورنيو انجنيرانو په مرسته جوړې او ګټې اخيستنې ته وسپارلې، هغه وخت يې د شپې او ورځې لپاره کورنيو او بهرنيو الوتنو ته اسانتياوې برابرې کړې او په لومړي ځل يې زرګونه حاجيانو ته حج ته د تللو زمينه برابره کړه. د ده د وزارت پر مهال کابو ٤٤ بېلابېلې ټرانسپورټي الوتکې او جنګي چورلکې چې د کورنيو جګړو پر مهال زيانمنې شوې او له الوتنې لوېدلې وې، بيا ورغول شوې او په ملکي هوايي چلند او هوايي ځواک کې ګټه اخيستنې ته وسپارل شوې. د ۱۳۸۰ل کال د تلې په ۱۵ نېټه افغانستان باندې د امريکا تر يرغل وروسته ملا اختر محمد منصور د يو بل زبرځواک پر وړاندې جهاد پيل کړ، چې د ده لپاره له سختو ازمېښتونو او ننګونو ډکه و. هغه وخت منصور ته د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد(رح) له لوري د رهبرۍ شورا پر غړيتوب سربېره د کندهار جهادي مسئوليت هم ور وسپارل شو، د ده د مسئوليت پر مهال په ۱۳۸۲ او ۱۳۸۷ کالونو کې د کندهار مرکزي زندان مات کړ او تر يونيم زرو زيات مجاهدين يې د دښمن له بنده ازاد کړل. کله چې ملا عبيدالله اخند د پاکستاني حکومت له لوري ونيول شو، ملا منصور د اميرالمؤمنين د دوهم مرستيال په توګه وټاکل شو. او د دې تر څنګ يې د کندهار ولايت نظامي مشري هم پر غاړه درلوده.

د پاکستان په زندان کې د ملا عبيد الله تر شهادت او د ملا برادر اخند تر نيول کېدو وروسته شهيد منصور د اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد(رح) لومړی مرستيال او د ټولو چارو مسئوليت ور ترغاړې شو. په ۱۳۹٤ل کال کې د اسلامي امارت د مؤسس اميرالمؤمنين ملا محمد عمر مجاهد د وفات له خبر خپرېدو وروسته ملا اختر محمد منصور د اسلامي امارت د رهبرۍ شورا د جيېدو علماوو له لوري د اميرالمؤمنين په توګه وټاکل شو. ده د خپل صف د منسجم ساتلو تر څنګ له ټولو هغو استخباراتي کړيو سره کلکه مقابله وکړه چې له بېلابېلو لارو يې اسلامي امارت په ليکو کې د اختلاف پارونې او انزوا هڅې کولې.

اميرالمؤمنين ملا اختر محمد منصور د۱٤۳۷ هـ ق کال د شعبان المعظم د مياشتې په ١٤ چې د ۱۳۹٥ل کال د غبرګولې له لومړۍ نېټې سره سمون خوري د کندهار ريګيستان او بلوچستان نوشکي ته څېرمه په يوه سرحدي سيمه کې دامريکايي بې پيلوټه الوتکې په بې رحمانه بريد کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد. شهيد منصور د شهادت په اووم تلين غونډه کې د اسلامي امارت مشرانو د ده په اړه ډېرې په زړه پورې خبرې او خاطرې بيان کړې، چې د ځينو مشرانو خبرې دلته لوستلی شئ.

**د کانونو او پيټروليم وزارت سرپرست شهاب الدين دلاور:**

منصور صاحب درې شيان په تول کې سره اچولي وو او تل يې پام ورته کړی و:

١ ـ د شريعت غوښتنې
٢ ـ د ملت غوښتنې
٣ ـ د نړۍ سره تعامل

## د بهرنیو چارو وزارت سرپرست امیر خان متقي:

شهید منصور به نورو مجاهدینو ته یو فکر ورکاوه، د ده بې تکلفه ژوند نورو ته یو مثال و، یوه ورځ د رهبرۍ غونډه د شپې تر یوې بجې پورې وه، ده له یوې بجې وروسته د شپې ټول مطبوعات لوستي وو، موږ باید د ده له تدبیر او سیاسي پوهې څخه ډېر څه زده کړو. منصور صاحب لومړی کار دا وکړ چې خلک یې دې ته پرېنښودل چې ډلې ټپلې جوړې کړي، ده د

خپلو مجاهدینو پر مټ په ټول افغانستان کې عملیات شروع کړل. ده ځینې بنسټونه مضبوط کړل، د هیواد اقتصادي او سیاسي برخو ته یې توجو ډېره کړه او هغه سیاسي ادرس ته یې تقویت ورکړ چې تهداب او بنسټ یې مشر ملا صاحب ایښی و، د همدې ادرس له برکته له نړۍ سره راشه درشه او مذاکرات پیل شول او دا دی چې اخېر په لویه کامیابۍ سر ته ورسېدل.



# د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت

# له مالي او اداري مرستيال حافظ انجنير صديق الله (عابد) سره لنډه مرکه




**پوښتنه: ښاغلی معين صاحب ! د عوايدو د الکټرونيکي کولو په تړاو د وزارت کارکوونکو ته سمينارونه جوړ شول او ډېرې غونډې هم و نيول شوې، د عوايدو په الکټرونکي کولو سره به د عوايدو په برخه کې څومره روڼوالی راشي؟**

**ځواب:** د عوايدو د الکټرونيکي کولو په موخه موږ خپلو مرکزي او ولايتي کارکوونکو ته بېلابېل سمينارونه داير کړل، چې د دوی د ظرفيت لوړوني ترڅنګ، د عوايدو په روڼتيا کې رغنده رول لري. د عوايدو تنظيم او کنټرول زموږ د مهمو موخو او اصلي دندو څخه دي، ترڅو له دې لارې د عوايدو په راټولونه کې روڼتيا رامنځته شي، په همدې موخه د اسلامي امارت له پاليسۍ سره سم موږ د خپلو عوايدو د الکټرونيکي کولو او له هغې څخه د لګښت د مخنيوي په موخه د الوتکو د مسافرينو د دقيقې او کره سرشمېرنې لپاره سيستم طرحه او عملاً په هوايي ډګرونو کې تر‌ېنه استفاده کېږي. د هوايي چلند د برخې ترڅنګ د واټ ټرانسپورټ په برخه کې هم دعوايدو لپاره سيستم طرحه، ترتيب او عملاً له هغه څخه استفاده کېږي. همدارنګه د سيستم په ښه شکل ګرځندي کولو لپاره مو پر کار پوه کسان ګمارلي. دوی ته مو په دې برخه کې د سيستم د ښه چلولو او په کره توګه د دقيقې ډاټا انټري کولو په موخه روزنه ورکړې ده. سربېره پردې د عوايدو د ښه کنټرول په موخه مو بېلابيلې طرحې جوړې کړې او عملاً د پلي کېدو په حال کې دي، چې په دې سره به د عوايدو په راټولولو، کنټرول، روڼتيا او د هغې په پايله کې به د عوايدو په زياتوالي کې د پام وړ تغير راشي.

زمونږ د وزارت د عايداتي سرچينو ټول عوايد مو الکټرونيکي (بانکي) کړي، چې پر وخت د بانک له لارې د امارت خزانې ته جمع کېږي، يوازې د ځمکني ټرانسپورټ برخې عوايد دي چې لا تراوسه الکټرونيکي شوي نه دي، د ماليې وزارت د راکړل شويو کتابچو په رؤيت يې عوايد راټولېږي او هرو دوو ورځو کې عوايد بانک ته جمع کېږي، مونږ خپل نهايي کوشش کوو چې د کتابچو سيستم ختم او د بانک له

لاري دا عواید راټول کړو، دې برخه کې زیات کار شوی خو د عوایدو الکټرونیکي کول یوه اوږده او مغلقه پروسه او د نورو اړوندو ادارو سره ګډ کار دی، چې په دغه برخه کې موږ د ماليې وزارت همدارنګه د افغانستان مرکزي بانک سره ځو ځلې غونډې نیولي دي. له ټولو عایداتي سرچینو څخه په دوامداره توګه نظارت او څارنه ترسره کېږي.

**پوښتنه: په تېره اداره کې ترمینلونه او هډې د چا له خوا اداره کېدې، او اوس په کوم حالت کې دي؟**

**ځواب:** د اسلامي امارت له راتګ مخکې، تېرې ادارې، ځینې هډې او ترمینلونه خلکو ته په قرارداد ورکړي وو او زیاتره يې د خپل سرو، مافیایی کړیو او زور واکو له خوا په ناقانونه توګه کنټرولېدلې او د خلکو څخه په اجباري ډول اخاذي کېدلې چې هېوادوالو ته یې په مختلفو برخو کې ډېرې ستونزې رامنځته کړې وې او فساد ته پکې لاره خلاصه وه.

نو موږ د ټرانسپورټي تنظیم لپاره طرحې جوړې د کابینې او د ریاست الوزراء د درانه مقام له خوا راته منظور شوې، په ټولو هډو او ترمینلونو کې رسمي کارکوونکي وګمارل شول، چې دا رسمي کارکوونکي د ټرانسپورټي وسایطو د تنظیم او کنټرول دنده په غاړه لري د وزارت لخوا ورته د بانک له لارې معاش ورکول کېږي، ټول هغه عواید چې د خدمتونو په مقابل کې په ترمینلونو او هډو کې راټولېږي، په مقابل کې يې موټر چلوونکو ته د صکوکو د دولتي مطبعې چاپ شوې رسمي ارزښت لرونکې پاڼه ورکول کېږي او راټول شوي عواید د بانک له لارې د مالیې وزارت ځانګړي رسمي کوډ ته په شفاف ډول جمع کېږي او په دوامداره توګه ترې نظارت او څارنه کېږي.

**پوښتنه: که د هوایي ټرانسپورټ په برخه کې راته ووایاست چې کوم کارونه شوي دي او کومې اسانتیاوې رامنځته شوې دي؟**

**ځواب:** لکه څنګه چې تاسو ته معلومه ده د ناټو ځواکونو په وتلو سره د دوی لخوا د کابل هوایي ډګر تقریباً (۷۰) سلنه تجهیزات تخریب شول، مخابروي سیسټمونه له منځه وړل شوي وو رادار تخریب شوی ؤ، په ټوله کې هوایي برخه مکمله فلج وه. الحمدلله د الله(ج) په ځانګړي مدد سره ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت په کم وخت کې وکړای شول چې یادې برخې بېرته فعالې کړي، تجهیزات یې جوړ او الوتنو ته یې تیار او مساعد کړي .

موږ اوسمهال په افغانستان کې (۲۷) فعال هوایي ډګرونه لرو چې له دې جملې څخه یې (٤) نړیوال او پاتې نور یې کورني هوایي ډګرونه دي، الحمدلله دا ټول هوایي ډګرونه فعال او په نورمال ډول ترې الوتنې تر سره کېږي په ورځني ډول له (۲۰-۳۰) پورې کورنۍ او بهرنۍ الوتنې لرو، چې تر ٦ کورنۍ او نورې یې بهرنۍ الوتنې دي.

د شته خنډونو او موانعو سره سره ټولو هغو هیوادونو ته چې وړاندې الوتنې تر سره کېدې اوس مهال هم ترسره کېږي او ځینو هیوادونو او ښارونو ته نوې الوتنې هم پیل شوي دي لکه

د اماراتو (العين) ښار ته نوي الوتنې پیل شوي چې وړاندې نه وې او همدارنګه قطر هیواد ته مخامخ الوتنې پیل شوي دي.
په نړیوالو هوایي ډګرونو کې مسافرینو ته د نړیوال سټنډرډ مطابق معیاري خدمتونه وړاندې کېږي. ټرانسپورټ او هوایي چلند په هوايي برخه کې د متحده عربي اماراتو د (ګاک) کمپنۍ سره درې (۳) لوی لوی تړونونه (د ځمکني خدمتونو، هوایي چلند خوندیتوب او د ټول افغانستان هوایي خدمتونه) لاسلیک کړي دي، چې د یادو تړونونو په پای کې به موږ خپله ددې جوګه وګرځو چې ټولې تخنیکي برخې د کمو بهرنیانو پرځای، یو مخ د خپلو افغانانو له خوا پر مخ یوسو او په هوایي برخه کې به پر ځان بسیا واوسو ان شاءالله.
نو په ټوله کې الحمدلله د هوایي ټرانسپورټ برخه ډېره ښه فعاله ده چې د نړیوالو هوایي ډګرونو د ۲٤ ساعته فعال ساتلو په موخه موږ د داخلي شرکتونو سره تړونونه لرو او د لا ښه کېدو لپاره یې پرله پسې کار کوو.

**پوښتنه: د کابل ښار د ټرانسپورټ تنظیم لپاره مو کومې چارې تر سره کړې دي او څه په پلان کې لرئ؟**

**ځواب:** د ځمکني ټرانسپورټ د تنظیم په برخه کې مو بېلا بېلې طرحې جوړې کړې دي چې یوه یې د کابل ښاري ټرانسپورټ د تنظیم طرحه ده چې له نېکه مرغه د ریاست الوزراء درانه مقام لخوا منظور شوې ده او عملاً یې د پلې کېدو چارې روانې دي چه په همدغه طرحه کې د کابل ښار څخه ولایاتو ته د تلونکو موټرو ترمینلونه/هډې د کابل ښار څنډو ته انتقالېږي (ډېری یې انتقال شوي او یا د انتقال په حال کې دي)، چې د انتقال نه وروسته ورته د ښار له اطرافي هډو څخه عامه ښاري ټرانسپورټ برابر شوی. همدارنګه د کابل ښار دننه ټول لوی او واړه مسیرونه حساب شوي په هر مسیر کې په ورځني ډول تقریباً څومره مسافر تګ راتګ کوي او هر مسیر څومره موټرونو ته اړتیا لري، په نښه او حساب شوي دي. ددغو مسیرونو د تنظیم لپاره څه کم (دوه سوه) نوي کارکوونکي ګمارل شوي دي او د هر مسیر موټرونه ثبت کیږي، ځانګړي سټېکرونه ورکول کیږي چې د موټر مالک، موټرچلوونکي او تګ مسیر یې پکې لیکل کېږي د یو مسیر موټر په بل مسیر کې فعالیت نشي کولای او د خاص مهال وېش له مخې به د سهار وختي څخه د ماښام تر ناوخته پورې فعالیت کوي، چې په دې سره به ښاریان وکولای شي په ټول ښار کې په اسانۍ سره تګ راتګ وکړي.
د یادولو ده چې د پنځو لویو ولایتونو (هرات، کندهار، ننګرهار، کندز او مزارشریف) لپاره موږ د ټرانسپورټي چوپړتیاوو د تنظیم طرحې چمتو او ژر به پلې شي، چې په دې سره به د هېوادوالو ګڼې ستونزې حل شي.

ان شاالله تعالی

# د هوايي دهلېزونو تاريخ

په ۱۲۹۸ل/ ۱۹۱۹ز کال په انگلیستان کې د الوتکو د کنټرول يوه نړيواله کمېټه جوړه شوه، چې په لومړيو کې ۱۹ هيوادونو د دې کمېټې غړيتوب درلود او همدې ۱۹ هېوادونو په رسميت وپېژنده. دا کمېټه ځکه ايجاد شوه چې په پورتني ياد شوي کال د فرانسې په هوايي حريم کې د دوو الوتکو د ټکر په پايله کې اوه تنه پيلوټان چې دوه يې روزنيز استادان وو، ووژل شول. دا پېښه انگليستان او نورو هيوادونو ته د خطر زنگ و. د ورته پېښو د مخنيوي په موخه يې دا نولس کسيزه کمېټه رامنځته کړه. دې کمېټې په لومړيو کې پيلوټانو ته مشوري او روزنه ورکوله، کله چې له اقتصادي ستونزو سره مخ شوه، پرېکړه يې وکړه چې له دې وروسته بايد هره الوتکه يوه اندازه د اړتيا وړ توکي بل هيواد ته په وړيا توگه ولېږدوي او له پلورلو وروسته يې گټه دې کمېټې ته ورکړي. له دې پرېکړې وروسته هر هيواد په دې مکلف شو چې يو سيټ د دې کمېټې لپاره خالي کړي، دا سيټ د همدې کمېټې په نوم ونومول شو.

په ۱۲۹۹ل/ ۱۹۲۰ز کال دغې کمېټې د غړيتوب د فيس تر څنگ يو سيټ ځای هم د کمېټې په نوم خپل کړ. کله چې کمېټه په دې پوه شوه چې توکي د اوبو او ځمکې په پرتله د هوا له لارې ژر او ارزانه انتقالېږي؛ نو پرېکړه يې وکړه چې ټول غړي هيوادونه به په شريکه يوه الوتکه اخلي چې سوداگريز توکي پکې ولېږدوي. بالاخره يې همداسې وکړل او يوه الوتکه يې د کمېټې په نوم واخيسته په لومړيو کې يې يوازې دومره کولای شول چې توکي پکې خپلو غړو هيوادونو ته ولېږدوي، دا کار په لومړيو کې يوازې کمېټې کاوه، وروسته د يو معلوم فيس په اندازه غړو هيوادونو سوداگرو ته هم اجازه ورکړل شوه. څه وخت وروسته نورو هيوادونو هم لېوالتيا وښوده او نورو هېوادونو ته هم د اړتيا وړ توکو لېږد کېده.

وروسته بيا دې پروسې دهوايي دهلېزونو شکل غوره کړ او د هېوادونو د تفاهم څخه وروسته هوايي کارگوگانې (د توکو ډکې الوتکې) له يو هيواد څخه بل هيواد ته لېږدول کېدې.

په ۱۳۹٦ل کال د افغانستان او هند تر منځ لومړنی هوايي دهلېز پرانېستل شو.

د افغانستان بانک د راپور له مخې افغانستان په ۱۳۹۹ل/ ۲۰۲۰ز کال کې د ۱۹٤ ميليونو ډالرو په ارزښت ۷٤۱٤ ټنه کورني محصولات بهر ته صادر کړي وو.

> **تر ټولو ښه فکر هغه دی چې دنورو دهوساينې لپاره وي.**
>
> پير روښان


# د لومړني انسان د الوتنې کیسه

نورالله غازي

کله چې پر اندلس یا اوسنۍ هسپانیه د مسلمانانو شانداره حکمراني چلېده او د علومو چینې یې نه یوازې په اندلس کې په شور رواني وې، بلکې نورو هغو هیوادونو ته هم  ورسېدې چې نن د نړۍ پرمختللي او د عصري علومو په ډګر کې پر ځان غره دي. د دې چینو له ګټورو اوبو څخه به دوی خپل خالي ذهن د ډکولو لپاره ګیلاسونه تري ډکول او د اوبو شور یې په زړونو کې د بېلابېلو علومو بوټي راشنه کول. ځینو د علم تږو غوښتل چې دې علم دوسته خلکو ښار و دیار ته ورشي او له ځان سره د علومو فیوضات او د غوړیدلو کتابونو له ګلونو خپلو خونو ته شات راوړي.

په دې کې یوه میرمنه هم شامله وه، چې د علم تږې وه، کله چې دې هیواد ته راغله، د خلکو په لېدویې په زړه کې د ایمان چینې راوخوټېدې، د دې خلکو دین ته یې لیوالتیا پیدا شوه او د شهادت کلمې په ویلو د دې ښکلي دین بڼ ته ورننوته. دې میرمنې غوښتل چې په دې عالمو وګړو کې ځان ته د ژوند ملګری داسې یو څوک وټاکي، چې د مسلمانۍ سره سره یو عالم او فاضل شخص هم وي. اخېر یې د عباس له پلار سره واده وکړ.

۸۱۰ز کال و چې عباس د اندلس په اذن ښار کې نړۍ ته سترګې وغړولې، عباس چې لږ رالوی شو، ځیرک هلک و او د هر څه په اړه به



یې ژور فکر کاوه. په کوم هیواد، ښار و دیار کې چې د علومو چینې بهېږي، حتمن د وګړو پر فکر او مغز اغېز کوي. د ده مکمل نوم عباس بن فرناس  بن ورداس التاکریني و. دی د خپل وخت یو جامع الکمالات شخص و؛ شاعر، ستورپوه، انجنیر او په لسګونو نورو علومو کې یې هم لاس درلود. له دې علومو سره یې دې ته هم پام شو، چې دا مرغان څنګه په هوا الوتنه کوي، د ده په زړه کې وو، چې داسې یو څه یې کړي وای چې د مرغانو په شان په هوا الوتلی وای. ده به په تخیل کې په ځان پسې وزرونه جوړ کړل او آن تر ستورو او سپوږمۍ به راتاو شو، فرناس له دې خیال څخه خوند اخیسته او کله کله به یې په خوب کې هم د

مرغه په شانې الوت کاوه. خو دې تخیل، خوب و خیال یې پر عقل او فکر هم پنجې ورخښې کړې، لکه دا کار چې د کېدو وي او انسان په رښتیا د مرغه په شان په هوا الوتلی شي. دی نور د خیال نه راووت او په الوتلو یې ژور فکر پیل کړ، باید چې فکر یې کړی وای، ځکه چې په قرآن مجید کې یې لوستي وو:

**أَوَلَمْ يَرَوْا إِلَى الطَّيْرِ فَوْقَهُمْ صَافَّاتٍ وَيَقْبِضْنَ ۚ مَا يُمْسِكُهُنَّ إِلَّا الرَّحْمَٰنُ ۚ إِنَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ بَصِيرٌ.** (ایا دوی د خپل ځان د پاسه الوتونکې مرغانو وزرونه غوړوونکې او ټولوونکې نه ویني؟ دا له رحمان څخه پرته بل هیڅوک نشته چې هغوی یې تم کړي وي، هماغه د هرڅه لیدونکی دی)

نو له دې سره یې په عملي کار لاس پورې کړ، کابو شل کاله یې خپلو تجربو ته دوام ورکړ او د مرغانو پر الوتنو یې ژور فکر وکړ، د ورځو نه یوه ورځ وه، چې ده په ښکاره اعلان وکړ چې انسان هم کولی شي چې دمرغه په شان والوځي، خلک ورپسې وخندیدل، مګر دی چندان د خلکو د خندا او تمسخر په کیسه کې نه شو. هو، لوی خلک وړو خندونو ته نه درېږي، بلکې خنډ له لارې اېسته کوي او مزل کوي. د ده په سر کې د علومو یو کاروان روان و، په دې کاروان پسې که له هرې کوڅې د سپیو غپا راتله، ده بیخي نه اورېده او نه یې غوږ پرې ګراوه. ده یوازې په دې فکر کاوه چې څنګه وزرې جوړې کړي او بیا یې په ځان پسې وتړي او لوړ الوت وکړي. ویل کېږي ده لومړی د یوې ماهۍ څخه چې د بڼکو ځادر ورسره و، له یوه منزل نه راټوپ کړل، چې لاندې ورو راوغورځید، چې دا هم په نړۍ کې د لومړني پراشوټ هڅه ګڼل کیدای شي، مګر ده غوښتل چې په هوا کې سم الوت وکړي او د مرغانو په شان والوځي، ځکه دا یې یو لوی ارمان و او دی په دې پوهېده چې دا کار امکان لري او که هڅه وکړي، یوه ورځ به د ګڼو خلکو پر وړاندې الوتنه وکړي.

یوه ورځ یې د مرغه په شان دوه لوی وزرونه چې له وریښمو څخه جوړ شوي وو او ده د خپل وزن مطابق جوړ کړي وو، په ځان پسې وتړل. بیا یې له قرطبې څخه یو دوه میله لرې په شمال ختیځ کې پرتې یوې غونډۍ ته چې جبل العروس نومېده وخوت، هلته یوه کمره ته پورته شو، ده ته ډېر خلک راټول شوي وو، ټولو په حیرانو سترګو ورته کتل چې دا عمرخوړلی سړی چې عمر یې تر اویاوو کلونو رسېږي، څه ډول الوت کوي، که څه هم خلکو ته دا یو ډول د خندا وړ کار برېښېده، خو بیا یې هم د ده نورو کارونو ته په لېدو، داسې فکر هم کاوه چې ممکن دا عمر خوړلی سړی به الوتنه هم وشي کړای، ځکه تر دې وړاندې یې ښېښه جوړه کړې وه، ساعت یې جوړ کړی و او په ستور پوهنه کې یې داسې خبرې کړې وې چې د خلکو زړونو ته لوېدلې وې، نو ده ته یې په حیرانۍ کتل، د ده په لېدو خو به ځېنو ته خندا هم ورتله لکه یو لوی مرغه چې روان وي، ټول وجود یې د عقاب پر بڼکو پوښلی و او دوه لوی وزرونه یې د وریښمو د رسیو په واسطه په

ځان پسې ترلي وو، کله چې کمره ته وخوت يو کاغذ په لاس کې ورسره و او له همدې کاغذ څخه يې د خپلې الوتنې په اړه راټولو شويو خلکو ته معلومات ورکول، هغه وويل: اوس زه له تاسې سره خداى پاماني کوم، بيا يې خپلو وزرونو ته اشاره وکړه او زياته يې کړه: د دې وزرونو د ښکته کولو او پورته کولو له لارښوونې سره زه کولى شم چې د مرغه په شان پاس په هوا کې وګرځم، که چېرې دا هر څه سم وو، له الوتو وروسته به بېرته په خوندي ډول راښکته شم.

له دې سره يې لوى وزرونه وخوځول او په هوا شو، له خپل ځاى څخه لرې لاړ او يو څو شيبې په هوا کې هم وګرځېد، خلکو په حيرانۍ ورته کتل، فرناس په هوا کې د يو لوى مرغه په شان ښکارېده، اخبر يې د خلکو په خوا کې په يوه هوار ځاى کې د ښکته کولو تکل وکړ، کله چې ښکته کېده، په زړه کې ورتېره شوه، لکه يوه تېروتنه چې ترې شوې وي، د ناستې په وخت کې يې زړه په درزېدو شو، ده غوښتل چې پر ځمکه په کراره کېني، خو له بده مرغه چې د ده د توقع خلاف ډېر په تېزۍ کېناست او له دې سره يې خپل وزرونه هم مات شول او ملا ته يې هم سخته صدمه ورسېده، مګر خپل ارمان يې پوره کړ او د مرغه په شان يې په هوا کې الوتنه وکړه. د ملا له ماتېدو سره ده ته يو نوى فکر پيدا شو او په دې پوه شو چې د ملا د ماتېدو او په کراره د نه کېناستو علت يې څه و، ده دا معلومه کړه چې بايد د وزرونو سره يې

لکۍ هم جوړه کړې واى چې د ناستې پر وخت يې خپل تعادل پرې ساتلى واى او پر ځمکه پر کراره ناست واى، ده زړه کې ووېل، ما د مرغانو پر وزرونو فکر کړى و، مګر لکۍ ته مې پام نه و شوى چې دا په ناسته کې د دوى تعادل هم ساتي. تر ده کابو شپږنيمې پېړۍ وروسته (داوينچي) د مرغه د ماشين انځور وکېښ او کابو يوولس پېړۍ وروسته د رايټ ورونه په دې وتوانېدل چې لومړنۍ الوتکه جوړه کړي.

دا چې اوسنۍ الوتکې لکۍ لري او د ناستې پر مهال يې زيات زور پر شاتنيو ټايرونو راځي، دا پېښه لومړۍ عباس بن فرناس تجربه کړې وه، د ده دا لوى ارمان په زړه کې پاتې شو چې دا ځل يې پر لکۍ هم فکر کړاى واى او پر ځمکه په کراره ناست واى. دا لوى مسلمان عالم او ساينس پوه په ۸۸۶ز کال له دې نړۍ څخه سترګې پټې کړې او خپل علم يې نورو مسلمانانو ته په ميراث پرېښود.

**اخيستنې:**

1ـ قرآن مجيد، سوره الملک ايات 19.

2ـ نخستين کسى که توانست در آسمان پرواز کند.
ويبسايت سرپوش. https://tinyurl.com/ycx8mba3

3ـ چودهری، وقاص. انسانی تاريخ کے پہلے اڑنے والے انسان
Science Journalبلاگ. 1/4/2018. https://tinyurl.com/ysus5m6n

4ـ ابن فرناس او د طيارې لومړنۍ طرحه. قمر انسټيټيوټ ويبپاڼه. https://tinyurl.com/2uc9s3x6

> براى اينکه هيچ انتقادى از شما نشود فقط يک راه وجود دارد: هيچ کارى را انجام ندهيد، هيچ چيز نگوييد و هيچکس نشويد.
>
> اَرسطو

# الفبای هوانوردی

سید صدیق زیوری

چنانچه متوجه شده اید در عقب مکروفون خیلی از صداها شبیه هم تلفظ می شوند. فلهذا برای اینکه از هرگونه خطا جلوگیری شود برای هر حرف کلمه خاصی در نظر گرفته شده که تلفظ و شنیدن آن آسان بوده و به عوض آن حرف استفاده می گردد.

از این الفبا کپتان ها و کنترولرهای ترافیک هوایی استفاده می کنند تا دستورالعمل ها را بدون ایجاد مشکلی انجام دهند.

االفبای هوانوردی در دهه ۵۰ میلادی توسط سازمان بین المللی هوانوردی ملکی (ایکاو) به وجود آمده است تا به وسیله آن اشتباهات حین مکالمات به کمترین میزان برسد.

در زبان انگلیسی بعضی حروف از نظر تلفظ شبیه به هم هستند مانند N,M، از جانب دیگر مکالمات رادیویی بین کپتان ها و کنترول تاور ترافیک هوایی توسط مخابره بی سیم انجام می شود و کیفیت صدای واضحی ندارد و به راحتی هنگام تلفظ این حروف باعث سردرگمی می گردد.

نکته دیگر اینکه کپتان های مختلف از سراسر دنیا با زبان و لهجه های متفاوت در صنعت هوانوردی ملکی شاغل اند و هرکدام حروف انگلیسی را به شکلی مخصوص به زبان و لهجه خود تلفظ کنند که احتمال به وجود آمدن مشکل پیش می آید به همین علت ایکاو برای رفع این خطا از حروف مخصوص هوانوردی رونمایی نمود.

ساختار الفبای هوانوردی

مانند زبان انگلیسی در هوانوردی نیز دقیقا ۲۶ حرف وجود دارد اما تفاوت آن با حروف انگلیسی این است که در هوانوردی هر حرف یک کلمه متناظر دارد.

سازمان بین المللی هوانوردی ملکی برای جلوگیری از مشکل تلفظ حروف برای هر حرف یک کلمه در نظر گرفته و تمام افراد موظف هستند بجای تلفظ حروف از کلمات جایگزین استفاده کنند.

لیست کلمات را در تصویر زیر میبینید.

| | | | |
|---|---|---|---|
| A = Alpha | H = Hotel | O = Oscar | V = Victor |
| B = Bravo | I = India | P = Papa | W = Whiskey |
| C = Charlie | J = Juliet | Q = Quebec | X = X-Ray |
| D = Delta | K = Kilo | R = Romeo | Y = Yankee |
| E = Echo | L = Lima | S = Sierra | Z = Zulu |
| F = Foxtrot | M = Mike | T = Tango | |
| G = Golf | N = November | U = Uniform | |

مثال: اگر شماره پرواز AFG ۵۱٦ باشد و کپتان بخواهد شماره خود را به کنترول ترافیک هوایی اعلام کند باید بگوید:

Alpha Foxtrot Golf fife one six

علاوه بر مکالمات میان کپتان ها و کنترولران ترافیک هوایی و عملیات زمینی میدان های

هوایی ملکی، از این حروف در ثبت و  راجستر طیاره های ملکی نیز استفاده می شود. هر طیاره یک کود ثبت و راجستر مخصوص به خود  را دارد که به آن Tail number نیز گفته می شود و به شکل بالا اسم طیاره تلفظ می شود نه حروف.
نحوه درست بیان کلمات و چگونگی ارتباط بین کپتان و کنترولر ترافیک هوایی که باید رعایت شود در بخش چهاردهم مقررات هوانوردی ملکی افغانستان، انکس دهم  و سند شماره ( ۹٤۳۲) سازمان بین المللی هوانوردی ملکی به طور مکمل توضیح داده شده است.

# لوی او وړوکی

په شفتالو کې زړی دی په زړي کې ونه ولاړه ده.

د غنمو په وړو کې دانه شته، په دانو کې همدغسې وړې شته. په چرګه کې هګۍ ده په هګۍ کې چرګه ده.دغه یوه دانه پندانه، چې ګوري تېل او پلته دواړه لري او په حقیقت کې بله ډیوه ده، مګر ستا سترګې ريا نه ویني. ته خبر نه یې چې په یوه دانه او په یو ځاځکي کې عالمونه پراته دي.

ته پخپله هم د غنم په دانه کې وېده وې، بیا دې په یوه ځاځګي اوبو کې لامبو وهله نن په لویه بېړۍ کې ناست یې او په لویو دریابونو کې ګرځې.

څه شی چې ته وړوکی ګڼې هغه هم لوی دی، یا هغه څه چې تا ته لوی ښکاري هغه هم کوچنی او وړوکی دی. ته ونه لویه ګڼې هغه په یوه زړي کې ده. تا ته زړی وړوکی معلومېږي په هغه کې غټه ونه ځای شوې ده. دغه غټه هندوانه، چې ګورې کال ته نه پاتې کېږي او عمر یې ډېر لنډ دی، دغه د هندوانې کوچنی زړی تا ته هر کال تازه هندوانې درکوي.

د زړي قیمت له هندوانې نه لږ نه دی. که زړی ورک شو هندوانه ورکېږي.

نو راشه هیڅ شی وړوکی او کوچنی مه ګڼه، ځکه چې دلته غټ او کوچنی لوی او وړوکی نشته، ټول برابر دي یوازې خدای لوی دی او بس.

ګل پاچا الفت

# گلبهارخان د افغانستان د ملکي هوايي چلند لومړنی عمومي مدير

ګلبهار خان د پکتيا ولايت د اريوب ځاځيو ولسوالۍ د بيلووټ کلي د هاشم خان په کور کې نړۍ ته سترګې وغړولې، ده د پيلوټۍ زده کړې په بريتانوي هند کې ترلاسه کړې. دی د هوايي ځواک له قومندانۍ څخه و، له ده سره په ۱۳۲۵ل شا و خوا کلونو کې يوه عجيبه پېښه وشوه، د ده جنګي الوتکه د کونړ ولايت د نرنګ د چارقلعه کلي په عيدګاه کې راوغورځېده چې يو تن پيلوټ پکې ځای پر ځای ومړ او ګلبهار خان په زخمي حالت کې د قهرېدلو کسانو پنجو ته ولوېد، د دې سيمې خلک چې د هغه وخت له شاهي حکومت سره يې ځينې مشکلات درلودل، له دې قهرېدلو کسانو څخه يو کس د ګلبهار خان پر مرۍ چاړه راتېره کړه، مګر نورو ترې منعه کړ او ورته ويې ويل چې مه يې وژنئ له خيرې څخه ښه سرې ښکاري، په دې وخت کې د همدې سيمې ملکانو حاجي حکيم خان ساپي او منجورخان ساپي چې دواړه د شونګرۍ اوسيدونکي وو او د چارقلعه په اوکړه‌مار کې اوسېدل، ګلبهار خان يې له دې کسانو څخه وژغوره او کور ته يې بوتلو، د يو پخواني پيلوټ (غلام مصطفی طائير) له خولې چې ويل يې ما ته ګلبهار خان پخپله کيسه کوله ويل يې کله چې دې ملک خپل کور ته بوتلم، ميرمن يې د ورېښمو په تار په چاړه پرې شوې مرۍ راوګنډله، ډېر قدر و عزت يې راکړ او بيا يې په جاله کې کېنولم، د کونړ له سينده يې راپورې کړم او په جلال اباد کې يې سردار محمد داود خان ته چې هغه وخت د جنګ قومندان و، وسپارلم. له دې څخه وروسته بيا ګلبهار خان د هوايي ځواک عمومي قومندان وټاکل شو.

په ۱۳۲۵ل کال کې افغانستان د شيکاګو تړون په نوم د نړيوال ملکي هوايي چلند له تړون سره يو ځای شو، چې په اساس يې د اريانا افغان هوايي شرکت الوتکو د نړۍ ګوټ ګوټ ته الوتنې پيل کړې. په ۱۳۳۱ل کال د ملکي هوايي چلند برخه د هوايي ځواک له قومندانۍ څخه بېله او د صدارت عظمی تر رهبرۍ لاندې د ملکي هوايي چلند عمومي مديريت رامنځته شو، چې په مستقيمه توګه يې د الوتنو د کنټرول او د ملکي هوايي ډګرونو اداره پر غاړه واخېسته او ښاغلی ګلبهارخان چې د هوايي چلند په برخه کې يې تجربه درلوده، د ملکي هوايي چلند د عمومي مدير په توګه وټاکل شو، چې دا د افغانستان په تاريخ کې لومړنی کس و چې د ملکي هوايي چلند عمومي مدير شو، چې په همدې کال له هند، او څلور کاله وروسته له شوروي سره د هوايي چلند په برخه کې تړونونه لاسليک شول او د دې تر څنګ له

پاکستان سره یوه داسې هوکړه لاسلیک شوه چې د کراچۍ له لوري اروپا ته سفر وشي. له دې وروسته له امریکا سره د هوايي چلند لپاره د ١٤ میلیونو ډالرو پور هوکړه لیک لاسلیک شو او د پان امریکن کمپنۍ سره داسې هوکړه لاسلیک شوه چې د څوارلسو میلیونو ډالرو پور څخه پر دوه نیم میلیونو ډالرو به پیلوټان او د ملکي هوايي چلند کارکوونکي روزي او په پنځه ملیونه به د کندهار هوايي ډګر جوړوي.
کله چې ګلبهار خان د ملکي هوايي چلند عمومي مدیر وټاکل شو، هغه کونړی ملک او د ده میرمن چې دی یې له مرګه ژغورلی و او پناه یې ورکړې وه، دواړه د حج د فریضې لپاره سعودي عربستان ته ولېږل. د ملکي هوايي چلند د عمومي مدیریت له دندې وروسته ګلبهار خان تقریباً شپږ کاله د آریانا افغان هوايي شرکت رئیس هم پاتې شوی دی.
ویل کېږي چې ګلبهار خان ډېر دیندار ځوان و، د خپلو ملګرو او همکارانو په منځ کې په ملا ګلبهار مشهور و، دی غالباً په ١٣٨٨ل کال کې د پېښور په حیات اباد کې په حق ورسید او جنازه یې د پکتیا ولایت آریوب ځاځیو ولسوالۍ په بیلووټ کلي کې خاوروته وسپارل شوه.



د شیرپور هوايي ډګر


**اخیستنې:**

١. د کپتان محمد ظاهر مومند ناچاپه اثر

٢. فدا محمد فدوي و دوکتور احمد کبیر هوانورد، سیر انکشاف هوانوردی ملکی افغانستان. وزارت هوانوردی ملکی، ١٣٦٨هـ ش، صفحه ج.

٣ ـ ولی الله ملکزی. کونړ غرونه، غورځنګونه. هاشمي خپرندویه ټولنه، ١٤٠٠ل، ٥٣ ـ ٥٤ مخونه.

# بعضی از دستاورد های
## وزارت ترانسپورت و هوانوردی



# بعضی ازدستاورد های وزارت ترانسپورت و هوانوردی

**وزارت ترانسپورت و هوانوردی در راستای تامین اهداف عمده خویش که شامل مدیریت، تنظیم، انسجام، سازماندهی و نظارت از سیستم ترانسپورت جاده ای و هوانوردی به شکل موثر و مصئون، قابل دسترس، سازگار با محیط زیست؛ بخاطر رشد و شگوفایی اقتصاد کشور و اتصال منطقه ای و اهداف جهانی است، متمرکز می باشد. این وزارت که یکی از وزارت های مهم و عایداتی کشور است، در زمینه‌های مختلف؛ همچون امنیت هوانوردی، مصئونیت پرواز، تنظیم ترافیک هوایی، خدمات زمینی، خدمات هواشناسی، نظارت شرکت‌های هوایی و زمینی و مدیریت مارکیت، توسعه، تجهیز و حفظ و مراقبت میدان‌های هوایی و ترمینال ها و هده های ترانسپورتی، کار های مهم و بنیادی را در دو بخش ترانسپورت زمینی و هوایی انجام داده است که قرار ذیل بعضی از موارد شان به صورت فهرست وار بیان می شود:**

## قرارداد خدمات زمینی (Ground Handling)

قرارداد خدمات زمینی (Ground Handling) میدان هوایی بین المللی کابل، خواجه عبدالله انصاری و احمدشاه بابا به تاریخ ۲٤ ماه می ۲۰۲۲ میان کپتان غلام جیلانی وفا، معین عملیاتی وزارت ترانسپورت و هوانوردی و رزاق اسلم، مدیر عامل شرکت گاک با حضورداشت محترم ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست الوزراء و تعدادی از سرپرست وزیران کشور به امضا رسید.

مدت این قرارداد هجده ماه می باشد و هدف از عقد این قرارداد، انجام خدمات زمینی در سه میدان هوایی بین المللی افغانستان (کابل، خواجه عبدالله انصاری و احمدشاه بابا) از قبیل انتقال مسافر در پرواز، ترخیص و تخلیه داخل طیارات، انتقال چمدان در پرواز و انتقال محموله می باشد. خدمات برای مسافرین در داخل ترمینال و خدمات شبانه روزی و برخی خدمات مرتبط دیگر نیز شامل این قرار داد است.



## امضا قرارداد خدمات امنیت هوانوردی
## (Aviation security services)

قرارداد خدمات امنیت چهار میدان هوایی کشور؛ کابل، احمد شاه بابا، خواجه عبدالله انصاری و مولانا جلال الدین محمد بلخی میان الحاج غلام جیلانی وفا، معین عملیاتی وزارت ترانسپورت و هوانوردی و ابراهیم معروفی ، رئیس اجرائیه شرکت گاک امارات متحده عربی، امضا شد.

بخش های چک، تلاشی مسافران و اموال شان، تامین امنیت طیاره ها و میادین هوایی با معیار های بین المللی شامل این قرارداد می باشد.

## امضا قرارداد خدمات رهنمود هوایی

این قرارداد نیز میان وزارت ترانسپورت و هوانوردی و شرکت گاک به امضا رسید. این قرارداد طی مراسمی در مرکز اطلاعات و رسانه های حکومت، در حضور محترم الحاج ملا عبدالغنی برادر، معاون اقتصادی ریاست الوزرا به امضا رسید. با تطبیق این پروژه، خدمات هوایی بر اساس استندردهای بین المللی به طیارات که از حریم هوایی افغانستان عبور می کنند و یا در میدان های هوایی بین المللی فرود می آیند ارایه می شود.

ماهیت این قرارداد، به گونه مشارکت عامه و خصوصی بوده که بر مبنای آن، شرکت گاک مجموعاً مبلغ ۳۱۹ میلیون دالر آمریکایی سرمایه گذاری خواهد کرد. معیاد مجموعی




ARIANA
افغانستان



این قرارداد مدت (۱۰) سال بوده که در شش ماه اول شرکت گاک، در بخش ظرفیت سازی و تجهیز بخش های مورد نیاز کار نموده و سپس، خدمات رهنمود هوایی را عرضه خواهد کرد.
امضا این سه قرارداد مهم بر افزایش تجارت، ترانزیت، معیاری سازی میادین هوایی، تربیه متخصصین، تامین مصئونیت پرواز ها و جمع آوری عواید اثرات مثبت دارد.

## سیستم نظارت مصئونیت هوانوردی افتتاح شد

سیستم نظارت مصئونیت هوانوردی به منظور بررسی اسناد طیارات، شرکت های هوایی، میادین هوایی، مراکز ترمیماتی و حفظ و نگهداری طیاره ها و مراکز آموزشی بخش هوانوردی ایجاد شده و تمام چک لیست های مفتشین ریاست مصئونیت پرواز در این سیستم اضافه می شود و مفتشین می توانند که از طریق سیستم، پلان نموده و بررسی خود را انجام بدهند.
در این سیستم برای نمایندگان شرکت های هوایی و یا مراکز ترمیماتی و مراکز آموزشی هم حساب کاربری ساخته می شود و در زمان بررسی ها اگر کاستی ها در اسناد موجود باشد، به نمایندگان شرکت ها فرستاده می شود تا آنها اصلاحات آورده و دوباره در سیستم درج نمایند.
تمامی این پروسه توسط سیستم انجام می شود و مفتشین مصئونیت هوانوردی، پرسونل تخنیکی بخش های عملیات مصونیت، قابلیت پرواز و لایسنس قادر به نظارت و درج اصلاحات نظر به صلاحیت های تفویض شده در سیستم می باشند. همچنین امکان ایجاد گزارش از سیستم هم وجود دارد و تمام نظارت های که صورت گرفته در سیستم ثبت می‌شود.



# فعال نمودن میدان های هوایی کشور

همان طوری که همه میدانند، نیروهای ناتو و آمریکایی مستقر در میدان هوایی بین‌المللی کابل در هنگام خروج بیش از ۷۰ فیصد تجهیزات، تأسیسات و وسایط تخنیکی این میدان هوایی را تخریب نموده و بسیاری از تجهیزات؛ از جمله سیستم ارتباطات این میدان هوایی که با ۱۹۲ کشور در ارتباط بود تخریب؛ کمپیوتر ها و کمره های امنیتی پیشرفته که میلیون‌ها دالر ارزش داشتند، نابود شدند و تمام امورات هوانوردی و عملیات هوایی فلج و تعطیل‌شده بود.

وزارت ترانسپورت و هوانوردی بسیاری از دستگاه‌ها و سیستم‌های مدرن، تأسیسات و وسایط تخنیکی این میدان هوایی را مجدداً فعال نمود و عملیات پروازی دوباره به شکل عادی و نورمال برگشته و طیاره ها، پروازهای خویش را از این میدان هوایی به ولایات و کشورهای (پاکستان، ایران، امارات متحده







عربی؛ از جمله به شهر العین امارات متحده عربی که مدت هفت سال پرواز در این سکتور متوقف بود، چین، ازبکستان، روسیه، عربستان سعودی، هند و قطر از سر گرفتند که اکنون پروازهای خارجی عملاً به این کشورها صورت می‌گیرد.

علاوه بر این، از میدان هوایی بین‌المللی خواجه عبدالله انصاری، احمد شاه بابا، مولانا جلال الدین محمد بلخی و خوست مطابق قوانین و سفارشات سازمان جهانی هوانوردی ملکی (ایکاو) عملیات پروازی بدون کدام سکتگی انجام‌شده/می‌شود و تمام بخش‌ها و دستگاه‌های راهنما به خاطر عملیات پروازی طیاره ها و ارائه خدمات اجتماعی فعال می باشد. همچنین میدان هوایی ننگرهار که در ۲۰ سال توسط نیروهای آمریکایی و ناتو فقط برای اهداف نظامی استفاده می‌شد؛ پس از دو دهه برای پروازهای ملکی آماده شد و در حال حاضر توسط وزارت ترانسپورت و هوانوردی اداره می‌شود و عملاً پروازها از این میدان هوایی صورت می‌گیرد. تیم کاری مسلکی و حرفه‌ای وزارت ترانسپورت و هوانوردی، سیستم مخابره، برج های مراقبت و تمام تجهیزات کنترول تاور میدان هوایی را که غیرفعال بود ترمیم، تنظیم و دوباره فعال کردند.همچنین ترمینال تاریخی میدان هوایی ننگرهار با امکانات لازم تجهیز و تنظیم شده و به صورت معیاری برای پذیرش و پروسس مسافرین آماده شده است. این ترمینال به صورت اساسی رنگمالی و ماشین اکسری و سالون انتظار شان به شکل استندرد آماده شده است.

علاوه بر این در میدان هوایی بین المللی خوست در طول یک سال گذشته مسجد به صورت اساسی با سالون های جداگانه مردانه و زنانه برای نمازگزاران و مسافرین محترم در دو طبقه اعمار شده است و نیز پارک تفریحی به ارزش ۲میلیون افغانی در این میدان هوایی به صورت معیاری ساخته شده و این میدان هوایی به برق شهری وصل شده است.



## انتقال و نصب سه پایه دستگاه رادار در کابل، هرات و مزار شریف



اولین پایه رادار سرتاسری برای نصب در کابل، هرات و مزار شریف ترخیص شد؛ محموله رادارهای سرتاسری حاوی سه‌پایه رادار از کشور فرانسه وارد افغانستان شده و در میدان هوایی بین‌المللی کابل به وزارت ترانسپورت و هوانوردی تحویل داده شد.

بعداً یکی از این سه پایه رادار در کابل نصب شد و دو پایه دیگر آن جهت نصب به میدان هوایی بین المللی خواجه عبدالله انصاری در هرات و مولانا جلال الدین محمد بلخی در مزار شریف انتقال داده شد.

## سیستم (پی ای ال)
## (PEL) Personal Licensing

برای اولین بار سیستم (پی ای ال) PEL در افغانستان ایجاد شد و در سیستم
(PEL) PERSONNEL LICENSING
برای اولین بار برای هفت تن از انسپکتران لایسنس انسپکتری و کارت داده شد.

اشخاص و نهاد های اداری ذیربط در این سیستم؛ شرکت های هوایی، رئیس مصونیت پرواز و انسپکتران می باشد که مسئولیت اصلی به دوش انسپکتران می باشد. دارندگان کارت، در هر جای دنیا که باشند، می توانند وارد این سیستم شده و معلومات خویش را ببینند. این کارت ها دارای کود شناسایی (QR Code) می باشد که با استفاده از این کود ها در سیستم، اصلی و جعلی بودن معلومات اشخاص مشخص می شود که امکان جعل و تقلب در این سیستم وجود ندارد.

گفتنی است که این سیستم مطابق با استندردها و معیار های سازمان بین المللی هوانوردی ملکی (ایکاو) ایجاد شده که با استفاده از این سیستم، سهولت های زیادی در روند کاری مصونیت پرواز به وجود می آید.

## چک عمومی طیارات شرکت های هوایی

برای اولین بار پروسه C20-Check طیاره ایربس A310-300 د آریانا افغان هوایی شرکت که قبلاً در خارج از کشور با هزینهٔ بالغ بر ۱٫۳ میلیون دالر آمریکایی و در مدت پنج الی شش ماه انجام می شد، اکنون در داخل کشور توسط تیم تخنیکی و مسلکی د آریانا افغان هوایی شرکت تحت نظارت وزارت ترانسپورت و هوانوردی برابر با معیارهای هوانوردی جهان با هزینه حدوداً ۲۰۰ هزار دالر




آمریکایی و در مدت ۲۸ روز کاری موفقانه تکمیل و به بهره‌برداری سپرده شد که، به سطح کشور و هوانوردی افغانستان بی پیشینه بوده و دست آورد بزرگ تلقی می‌شود.

به تعقیب آن مرحله C-20-Check طیاره بوئینگ ۷۳۷ شرکت هوایی آریانا نیز در داخل کشور آغاز و با موفقیت به پایان رسید.

همچنین مرحله C+D-Check طیاره بوئینگ ۵۰۰-۷۳۷ شرکت هوایی آریانا در داخل کشور توسط تیم تخنیکی و مسلکی د آریانا افغان هوایی شرکت تحت نظارت انسپکترهای مسلکی وزارت ترانسپورت و هوانوردی برابر با معیارهای هوانوردی جهان انجام شد که، به سطح کشور و هوانوردی افغانستان بی پیشینه بوده و دست آورد بزرگ برای هوانوردی افغانستان تلقی می‌شود.




# انستیتوت هوانوردی ملکی

انستیتوت هوانوردی ملکی که یکی از ریاست های مسلکی وزارت ترانسپورت و هوانوردی است، همه ساله در دو بخش کنترول ترافیک هوایی (ATC) و تکنالوژی هوانوردی (CNS) از ٣٤ ولایت کشور از طریق پروسه آزاد اشتراک در امتحان اختصاصی کانکور، (کسانی که به زبان انگلیسی بلدیت کامل داشته باشند و فارغ صنف دوازدهم باشند محصل جذب می نماید.) این محصلین به مدت دو سال در رشته های متذکره با امکانات لازم و صنوف درسی معیاری و لیلیه استندرد و مجهز، فضای سبز عاری از سر و صدا، مسجد برای ادای نماز که در این اواخر اعمار شده، درس می خوانند و به سویه ١٤ پاس از این انستیتوت فارغ می شوند که اکثر آنها در بخش های مسلکی وزارت ترانسپورت و هوانوردی، شرکت های هوایی استخدام می شوند که از یک سال گذشته به این طرف، در حدود بیش از ۲۰۰ نفر در این انستیتوت شامل درس شده و در حدود بیش از ۱۰۰ نفر فارغ شده که اکثر آنها فعلا در بخش های مسلکی و تخنیکی هوانوردی کار میکنند.

وزارت ترانسپورت و هوانوردی در تلاش است تا با تکیه بر منابع مادی و معنوی موجود، نیاز نیروی انسانی ماهر خویش را مطابق با استانداردهای جهانی با استفاده از این انستیتوت و اعزام کارمندان جهت فراگیری آموزش های مسلکی لازم به خارج از کشور برآورده کند.

قابل ذکر است که در همین اواخیر هفت تن از کارمندان ریاست تنظیم خدمات ترافیک هوایی برای فراگیری آموزش های تخصصی و مسلکی در بخش ارایه خدمات هوايي و کنترول ترافیک هوایی، به شهر العین امارات متحده عربی اعزام شده بودند که بعد از فراگیری آموزش های لازم و سپري نمودن امتحان، سرتفیکت های شان را اخذ نموده و به کشور برگشتند.

## میدان هوایی چهارسده در ولایت غورافتتاح شد

این میدان هوایی در ولسوالی چهار سده این ولایت توسط وزارت ترانسپورت و هوانوردی با همکاری نهاد پکتیک اعمار شده که هدف از افتتاح این میدان هوایی، حل مشکلات عاجل و ضروری مردم شریف این ولایت؛ مخصوصا مردم ولسوالی چهارسده عنوان می‌شود که انتظار می رود با گشایش و استفاده از این میدان هوایی کوچک، بخشی از مشکلات مردم این ولسوالی که به دلیل مسیرهای صعب‌العبور از طریق ترانسپورت زمینی در مواقع ضروری؛ ازجمله در فصل زمستان با مشکل رفت و آمد روبرو اند رفع گردد و در بخش کمک‌رسانی عاجل یاری رساند.

## لغو شرکت هوایی باختر

شرکت هوایی باختر در اواخر نظام قبلی ایجاد شد، این شرکت هوایی داخلی یک طیاره داشت که به صورت کرایه از شرکت هوایی آریانا گرفته بود. به منظور جلوگیری از مصارف اضافی و ضیاع بیت المال و با توجه به اینکه شرکت هوایی باختر الزامات و معیار های یک شرکت هوایی داخلی را طبق مقرره ایجاد موسسات حمل و نقل هوایی تکمیل کرده نتوانست، وزارت ترانسپورت و هوانوردی به همکاری شرکت هوایی آریانا، وزارت مالیه و سایر نهاد های ذیدخل طرحی را نهایی ساخته و به مقام ریاست الوزرا پیشنهاد داد و به اساس فرمان شماره ۲۸ مورخ ١٤٤٣/٢/٢٨ ریاست الوزراء کشور، شرکت هوایی باختر لغو و انتقال و راجستریشن مجدد طیاره بوئینگ B737-500 به شرکت هوایی آریانا افغان تکمیل گردید و تمام کارمندان مسلکی شرکت هوایی باختر نیز در تشکیل شرکت هوایی آریانا اضافه شد.

پـوه هغـه څـوک دی
چې کارونه یې نیک وي.

(حضرت عمر فاروق رض)

# SIMULATORS DEVICE
# مصنوعي دستګاه له لګښت پرته فعاله شوه

هغه محصلین چې ملکي هوايي چلند په انسټيټيوټ کې د هوايي ټرافیک کنټرول په څانګه کې زده کړې کوي، یوه برخه یې په عملي ډول د سمیلیټور زده کول دي. پخوا دا سیستم په ډېره لوړه بیه د بهرنیانو له خوا د کابو اویا زره امریکایي ډالرو په لګښت د یو کال لپاره فعالېده، له نېکه مرغه د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د مسلکي کادرونو په هڅو او زیار سره دا سیستم له کوم لګښت پرته په دوامدار ډول فعال شو.



# نهایی سازی طرح مسوده قانون هوانوردی

مسوده تعدیل قانون هوانوردی ملکی افغانستان، مسوده تعدیل ۱٤ مقرره هوانوردی ملکی (Afghanistan Civil Aviation Regulations)، و در حدود ۱۵۰ سند هوانوردی ملکی افغانستان (Afghanistan Civil Aviation Document) طبق شریعت اسلامی و شرایط فعلی کشور با در نظر داشت اسناد سازمان بین المللی هوانوردی ملکی تکمیل و جهت اجراآت بعدی به دفتر مقام عالی امیر المومنین(حفظه الله) و وزارت عدلیه جهت طی مراحل و منظوری ارسال گردیده است. همچنان طرز العمل قیمت اسناد هوانوردی ترتیب و قابل اجرا میباشد.

# د آریانا افغان هوايي شر کت
# یو تن افغان انجنیر نوې الوتکه جوړه کړې

د آریانا افغان هوايي شرکت د داوود په نوم  یو افغان انجنیر په دې توانېدلی دی چې په خورا کمو امکاناتو الوتکه جوړه کړي. انجنیر داوود د دې الوتکې په جوړولو کې له المونیمو څخه ګټه اخیستې ده. دی زیاتوي که چیرې امکانات ورته برابر شي، کولی شي چې تر دې یې کارونه لا ښه او معیاري شي.

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مالي او اداري معین حافظ انجنیر صدیق الله عابد نوموړي انجنیر او د دې الوتکې د ویرینګ  برخې انجنیر په نغدي مرستو ونازول او له خپل لوري یې د هر ډول همکارۍ او ملاتړ ډاډ ورکړ.




# د اريانا افغان هوايي شرکت لومړنۍ (DC-3) الوتکه



# هواشناسی

ریاست هواشناسی تحت چتر وزارت ترانسپورت و هوانوردی، تمام امور ارایه خدمات هواشناسی در مرکز و ولایات کشور را توسط کارمندان مسلکی و مجرب داخلی، انجام میدهد. خدمات هواشناسی درمیادین هوايي محلی و بین المللی و همچنان پیشگوئی اوضاع جوی درشفت ٢٤ ساعته تنظیم شده و تمام استیشن های هواشناسی در مرکز و ولایات کشور به منظور ارایه خدمات هواشناسی فعال می باشد. این ریاست راپورهای روزانه، هفته وار و فصلی، پیشگویی اوضاع جوی به منظور آگاهی از وضعیت آب و هوا، راپورهای هشدار دهی ناشی از بارندگی شدید، برفباری های سنگین، بادهای شدید و وقوع سیلاب های آنی جهت آگاهی دهی به ارگان های ذیدخل دولتی، غیر دولتی و اصحاب رسانه جهت کاهش خطرات مالی و جانی را تهیه می نماید که از طریق صفحات رسمی این وزارت به نشر می رسد. همچنین به صورت دوامدار، راپورهای روزمره هواشناسی در میدان های هوایی (METAR) aerodrome report و راپور های خاص هواشناسی(SPECI)

Special weather report برای پیلوتان داخلی و خارجی جهت مصئونیت پروازها تهیه و به دسترس آنها قرار داده می شود.




نمونه ای از پیش بینی آب و هوای کشور

# مرکز واحد کاری

## جهت توزیع اسناد ترانسپورتی و ترافیکی وسایط فاقد اسناد ایجاد شد

به‌منظور فراهم‌سازی تسهیلات بیشتر به هم‌وطنان و جلوگیری از بروکراسی و ضیاع وقت، مرکز طی مراحل توزیع اسناد ترانسپورتی و ترافیکی وسایط باربری و مسافربری فاقد اسناد (One Stop Shop) ایجاد شد.

این مرکز به اساس طرح پیشنهادی که از طرف کابینه منظور شده است جهت طی مراحل توزیع اسناد برای موترهای باربری و مسافربری فاقد اسناد ایجاد شده اند. با ایجاد این مرکز؛ روند طی مراحل اسناد متذکره تسریع یافته و از ضیاع وقت جلوگیری خواهد شد.

**تصویب ده طرح برای حل مشکلات ترانسپورتی توسط کابینه امارت اسلامی افغانستان:**

به منظور بهبود امور ترانسپورتی در افغانستان و رفع مشکلات ترانسپورتی، به تاریخ ۱٤٤۳/۳/۳ هـ ق که برابر می شود با ۱٤۰۰/۷/۱۹ هـ ش، کمسیون تنظیم امور ترانسپورتی امارت اسلامی افغانستان تشکیل شد و این کمیسیون ۱۰ طرح را به کابینه ا.ا.ا پیشنهاد کرد که این ده طرح از طرف کابینه تصویب شد که قرار ذیل ذکر می گردد.

۱. تعیین قیمت واحد (۱۳۰) افغانی برای دریافت محصول تسهیلات ترانسپورتی در سیستم آسیکودا؛

۲. ایجاد سیستم الکترونیکی ترافیکی؛

۳. تنظیم فعالیت موترهای (دست راست) برابر سیستم ترانسپورت افغانستان، پس از تطبیق این پلان، بیش از ۲۰ میلیارد افغانی به خزانه امارت اسلامی افغانستان افزوده خواهد شد؛

٤. نصب پلیت ها در وسایط باربری در مکان های تعیین شده؛

۵. جلوگیری از فعالیت وسایط نقلیه که اسناد ترافیکی و ترانسپورتی ندارند؛

٦. وسایط نقلیه که چندین سال است جواز سیر و اسناد ترافیکی شان تمدید نشده است، برای تمدید مدارک، تخفیف ویژه داده می شود؛

۷. طرح اصلاح و بهبود نظم ترانسپورتی و ترافیکی در شهر کابل؛

۸. طرح تنظیم نوبت وسایط باربری در بنادر مرزی؛

۹. طرح حل مشکلات ترمینال پایتخت؛

۱۰. طرح نصب سیستم ردیابGPS-Global Positioning System درموتر های داخلی و خارجی.

## امضاء موافقت نامه احداث هده وسایط مسافربری لین بدخشان -کابل

موافقت نامه احداث و اعمار هده وسایط نقلیه مسافربری کلان ظرف (لین بدخشان - کابل)، میان وزارت ترانسپورت و هوانوردی با محترم ننگیالی، مالک زمین، واقع در باغ شاه شهر فیض آباد بدخشان در مقر این وزارت امضاء شد.
مالک جایداد به اساس این موافقت نامه وظیفه دارد که هده مذکور را با تمام تاسیسات لازم احداث و اعمار نماید.

## برنامه آموزشی برای رانندگان وزارت ها و ادارات ملکی







مطابق مصوبه شماره ۳۲ مورخ ۱۴۴۳/۹/۲۴ کابینه امارت اسلامی افغانستان، برنامه ارتقای ظرفیت برای رانندگان تمام وزارت ها و ادارات ملکی کشور از طرف وزارت ترانسپورت و هوانوردی آغاز شده و این پروسه در وزارت ها و ادارات ملکی جریان دارد. کارمندان مسلکی و تخنیکی این وزارت، هر روز با رفتن در یکی از وزارت ها و ادارات ملکی، برنامه آموزشی ارتقای ظرفیت را برای تمام رانندگان آن نهاد دایر نموده و مکلفیت های رانندگان و تمام موارد مربوط به حفظ و مراقبت از وسایط نقلیه و طرق رانندگی را به صورت مفصل به رانندگان ارایه می نمایند.

## تبدیل قانونی اتحادیه های ترانسپورتی سابق به شرکت های حمل و نقل آغاز شد

وزارت ترانسپورت و هوانوردی به منظور استندرد سازی سکتور ترانسپورت زمینی و عملی سازی ۱۰ مورد طرح که از جانب کمیسیون های ترانسپورتی و اقتصادی و کابینه امارت اسلامی افغانستان پیرامون رسیدگی و حل مشکلات ترانسپورتی مورد تصویب و تایید قرار گرفته اند تصمیم گرفت که تمام اتحادیه های ترانسپورتی که در افغانستان فعالیت دارند و از ترانسپورت زمینی استفاده می نمایند به شرکت ترانسپورتی تبدیل شود که این روند از چندین ماه قبل به این سو آغاز شده است و جریان دارد و خیلی از اتحادیه های ترانسپورتی تبدیل به شرکت ترانسپورتی شده اند و جواز خویش را مستقیم از وزارت ترانسپورت و هوانوردی اخذ نموده اند.

## توزیع کارت و کتابچه الکترونیکی به شـرکت های ترانسپورت زمینـی

توزیع کارت و کتابچه الکترونیکی به شرکت های ترانسپورت زمینی از چندین ماه قبل به این طرف آغاز شده و این امر باعث معیاری سازی سیستم ترانسپورت زمینی می شود و تمام شرکت های ترانسپورتی الزامی است که این کارت و کتابچه را دریافت کنند؛ زیرا این کتابچه و کارت از اهمیت بالای برخوردار است و مثل تذکره و پاسپورت برای رانندگان مهم است.

## دنړیوال واټ ټرانسپورټ اتحاديې د اکاډمۍ د تأسیس هوکړه
## IRU-International Road Transport Union

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت سرپرست **الحاج ملا حمیدالله اخندزاده** او د سوداګرۍ خونې سرپرست محمد یونس حسین لخوا د (ای ار یو) اکاډمۍ د رامنځته کولو هوکړه لاسلیک شوه. دا اکاډمي چې د نړیوال واټ ټرانسپورټ (TIR- Transpot international road) سیسټم د ښه عملي کولو په پار جوړېږي، په دې سره به د نړیوال واټ ټرانسپورټ په برخه کې پراخوالی او معیار رامنځته شي او د افغانستان موټرچلوونکو او د ټرانسپورټي شرکتونو کارکوونکو ته به د نړیوالو اصولو سره سمه پکې روزنه او زده کړه ورکول کېږي.

## د نړیوال واټ ټرانسپورټ تمځای هوکړه
## Transpot international road- Park



د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت مرستيالانو د واټ ټرانسپورټ مرستيال الحاج ملا عبدالسلام حيدري، مالي او اداري مرستيال حافظ انجنير صديق الله عابد او د عبدالروف نيازي لوژستيکي خدماتو شرکت له خوا د نړيوال واټ ټرانسپورټ تمځای (تیر پارک) د جوړېدو هوکړه لاسلیک شوه، دا تير پارک د مزار شريف او جوزجان پر عمومي سړک موقعيت لري او يو مجهز تير پارک به وي. دا مهم هوکړه ليک به په افغانستان کې د ټرانزيټ په برخه کې د اسانتياوو په رامنځته کېدو او پراختيا، د ځمکني ټرانسپورټ په معياريتوب، د ټرافيکي ګڼې ګوڼې په مخنيوي، د کاري فرصتونو په زياتوالي او د افغانستان اسلامي امارت د اقتصاد په پياوړتيا کې مهم رول لري.

## لایحه کرایه وسایط مسافربری شهر کابل و ولایات

وزارت ترانسپورت و هوانوردی به منظور معیاری سازی سیستم ترانسپورتی، جلوگیری از اضافه ستانی ها، رسیدگی به شکایات هم وطنان و نظارت دقیق از فعالیت های وسایط نقلیه مسافربری، لایحه کرایه وسایط مسافربری برای تمام ایستگاه ها و مسیر های داخل شهر کابل و ولایات را تهیه نموده و بعد از منظوری همگانی نموده و بعد نظارت و کنترول را آغاز نموده است که به طور دوامدار کارمندان این وزارت به ساحات رفته و از تطبیق لایحه کرایه وسایط مسافربری و جلوگیری از اخذ کرایه بیشتر از مسافرین توسط رانندگان نظارت نموده و کنترول می نمایند.

## نصب سیستم رد یاب
## GPS-Global Positioning System

تفاهم نامه نصب جی پی اس در موتر های لاری باربری و بس های مسافربری بین وزارت ترانسپورت و هوانوردی و شرکت Universal، سیف زون و تکتاز امضاء شد که با تطبیق این کار، هم سیستم ترانسپورتی معیاری می شود و هم در اشتغال زایی و شفافیت در کار و جمع آوری عواید تاثیرات مثبت به وجود می آید.

## لس تنه کارکوونکي ازبکستان کې له مسلکي زده کړو وروسته بېرته هیواد ته راستانه شول

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت لس تنه کارکوونکي چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د هوايي چلند د يوې هوکړې پر بنسټ ازبکستان هيواد ته لېږل شوي وو، هلته يې د هوايي ترافيکو په کنټرول سربېره د هوايي چلند په بېلابېلو تخنيکي برخو کې لنډمهالې زده کړې ترلاسه کړې او د ايکاو له معيار سره سم، د سند له ترلاسه کېدو وروسته بېرته هيواد ته راستانه او پر خپلو دندو وګمارل شول.

## د هوايي ترافيکو ۷ تنو کارکوونکو په العين کې تخصصي زده کړې ترلاسه کړې

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت د هوايي ترافيکو اوه تنه کارکوونکي چې د تخصصي زده کړو په پار د متحده عربي اماراتو د العين ښار ته لېږل شوي وو، د هوايي حريم د کنټرول په برخه کې د لنډ مهالو زده کړو له ترلاسه کولو وروسته بېرته خپل هيواد ته راستانه او خپلو دندو ته يې دوام ورکړ.

## سمینار های آموزشی




سمینار های آموزشی، تخصصی، اطلاع رسانی و معلوماتی برای کارمندان ترانسپورت زمینی و میادین هوایی کشور برگزار شد.

در این سمینارها، مسئولین مرکزی وزارت ترانسپورت و هوانوردی معلومات همه جانبه در بخش های تهیه و تطبیق قوانین، مقررات، طرح ها و طرزالعمل ها، تهیه و ترتیب پلان ها، موضوعات تدارکاتی و مالی، نظارت و ارزیابی، مراسلات اداری،

# طرح و تسوید قوانین، مقررات، طرزالعمل ها و لوایح جهت قانونمند شدن فعالیت های ترانسپورت جاده ای

## ۱- قانون

بازنگری قانون تنظیم ترانسپورت جاده مطابق به شریعت اسلامی و معیار های ملی و بین المللی.

## ۲- مقررات

۱- طرح و تدوین مقرره ایجاد و طرز فعالیت شرکت های ترانسپورتی.
۲- طرح و تدوین مسوده مقرره تنظیم وظایف وزارت ترانسپورت و هوانوردی.
۳- طرح و تدوین مسوده مقرره احداث، تنظیم و مراقبت از ترمینال های جاده ای.
٤- طرح و تدوین مقرره کنترول مراکز مصؤنیت تخنیکی وسایط نقلیه ترانسپورت جاده ای.

## ۳- طرزالعمل ها

۱- طرزالعمل کارت الکترونیکی و کتابچه تعیین مسیر حرکت وسایط نقلیه ترانسپورتی.
۲- طرزالعمل تنظیم نوبت وسایط نقلیه باربری در بنادر/گذرگاه های سرحدی.
۳- طرزالعمل استخدام کارمندان بالمقطع در وزارت ترانسپورت و هوانوردی.

## ٤- طرحې

۱- د واټ ټرانسپورټ په ترمینلونو او تمځایونو کې د ټرانسپورټي وسایطو د فعالیت تنظیم او مدیریت طرحه.
۲- په ننګرهار ولایت کې د تورخم ټرانسپورټي ترمینل څخه د ګټې اخیستنې طرحې ترتیب او عملي کول.
۳- د افغانستان په لویو ښارونو کې د ښاري عامه ټرانسپورټي سیستم د وضعیت تحلیل او تنظیمولو طرحه (لومړی برخه د کابل ښار) چې کار یې بشپړ شوی، خو د هرات، مزارشریف،

٤- په کابل ښار کې د ښاري مسافر وړونکو وسایطو (استانه او کاسټر) د تنظیم اصلاحي طرحه.
٥- د ترافیکو او د واټ ټرانسپورټ د خوندیتوب قواعدو او مقرراتو د پوهاوي طرحه.
٦- د نقلیه وسایطو د الکترونیکي تخنیکي او فني چک مرکزونو طرحه.
٧- د مسافر وړونکو ګادو ترمینلونو د کمپلکس جوړولو لاربنود چمتو کول.
٨- د بار وړونکو ګادو ترمینلونو د کمپلکس جوړولو لاربنود چمتو کول.
٩- د نړیوال واټ ټرانسپورټ تمځای (TIR-Parks) د جوړولو لاربنود طرحې چمتو کول.
١٠- د ترافیکي پیښو، ښاري ګڼوډیو او حادثاتو د مخنیوي څرنګوالي او د حل لارو طرحه ترتیبول.
١١- د باروړونکو او مسافر وړونکو ترمینلونو، الکترونیکي دروازو، تیر-پارکونو او عامه ترانسپورت لپاره په ملي او انګلیسي ژبو ٢٠ پروپوزلونو چمتو کول چې په تطبیق سره به یې په ترانسپورټي سیستم کې بنسټیز بدلونونه رامنځته شي.

# موافقت نامه ها و کنوانسیون ها:

## موافقت نامه با کشور ازبکستان

از آنجایکه افغانستان سال های زیادی با کشور ازبکستان رابطه حسنه تجارتی دارد و از این طریق بخش از نیازمندی های خویش را تهیه می نمایند، بناءً برای ایجاد نظم، انسجام بهتر امور تجاری و فراهم آوری سهولت های ترانسپورتی بین هر دو کشور رهبری وزارت ترانسپورت و هوانوردی در تفاهم با کشور ازبکستان بالای موافقتنامه ترانسپورت جاده ای کار نموده است که مذاکرات میان دو طرف جریان دارد.

## موافقت نامه تجارت ترانزیتی افغانستان و پاکستان
## Afghanistan–Pakistan Transit Trade Agreement

وزارت ترانسپورت و هوانوردی در همکاری نزدیک با وزارت محترم صنعت و تجارت و سایر ادارات ذیربط روی مسوده موافقت نامه تجارتی و ترانزیتی جدید (APTTA) کار نموده چندین جلسه حضوری و آنلاین میان دو طرف تدویر یافته و حدوداً ٩٠٪ روی احکام آن میان دو طرف توافق صورت گرفته و متباقی موارد اختلافی نیز به زودی برطرف شده آماده امضاء میگردد.

## موافقت نامه خدمات بس رانی میان افغانستان و پاکستان

توافقنامه بس رانی بین کشور پاکستان و افغانستان در سال ۲۰۰۵ به امضاء رسیده بود که شامل مسیر های جلال آباد ـ پشاور و کندهار ـ کویته می باشد. براساس توافق صورت گرفته میان دو کشور، قرار است به زودی خدمات بس رانی در مسیر جلال آباد – پشاور و قندهار-کویته آغاز گردد.

## موافقت نامه سه جانبه ترانسپورتی و ترانزیتی میان افغانستان – ایران – ترکیه

مسوده موافقت نامه سه جانبه ترانسپورتی و ترانزیتی میان افغانستان – ایران – ترکیه از سوی این وزارت ترتیب و تدوین گردیده، بعد از کسب نظریات ادارات ذیربط قرار است غرض کسب نظریات دو کشور از طریق وزارت امور خارجه به آن کشورها ارسال گردد.

## کنوانسیون های سال (۱۹٦۸) ویانا در رابطه به علایم راه و ترافیک جاده

طی مراحل کسب عضویت کنوانسیون های ویانا ۱۹٦۸ در رابطه به علایم راه ها و ترافیک جاده از جانب این وزارت غرض طی مراحل بعدی به وزارت امور خارجه ارسال گردیده است. در صورتیکه افغانستان عضویت این کنوانسیون را کسب نماید رانندگان وسایط نقلیه افغانی می توانند با داشتن جواز رانندگی افغانی به تمام کشورهای عضو این کنوانسیون انتقالات انجام دهند. و علایم راه ترافیک جاده ای افغانستان به آن کنوانسیون ثبت میگردد.

### چټکوالی

د افریقا په سحراګانو کې چې هر سهار هوسۍ له خوبه راپاڅي له ځان سره وایي: د دې لپاره چې ژوندۍ پاتې شم باید د ځنګل تر خورا ډېر چټک زمري هم چټکه واوسم!

د افریقا په ځنګلونو کې چې هر سهار زمری راویښیږي، له ځان سره وایي: د دې لپاره چې ژوندی پاتې شم، راته ښکار ده چې د سحرا تر هغې هوسۍ خو چټک واوسم چې د نورو په اندازه ګړندۍ نه ده.

دا مهمه نه ده چې فطرت هوسۍ پیدا کړي یو، که زمري. مهمه دا ده چې د ژوند په سیالۍ کې باید تر نورو چټک واوسو!

(د زرو هنداړو کور)



د شمالي ولایاتو مسافروړونکو موټرو ترمینل

# ترمینلونه او هډې

## د تورخم ترمینل

په ۱۳۹۵ل کال د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزات له لوري د تورخم د ترمینل طرحه ډیزاین شوه. دا ترمینل چې په ټولیز ډول ۲۵ جریبه ځمکه لري، په لس جریبه کې یې د مسافر وړونکو موټرو لپاره د ترمینل چارې په ۱۳۹۸ل کال بشپړې شوې، چې وروسته د یو منظم پلان د نه درلودو له کبله غیر مسئولو کسانو او ځینو نورو اداراتو له لورې ترې ګټه اخیستل کېده او مالیات یې هم د زورواکو جیبونو ته تلل. د افغانستان د اسلامي امارت په راتګ سره د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت له لوري د ترمینل څخه د ګټې اخیستنې طرحه ترتیب، د ریاست الوزراء عالي مقام څخه منظور شوه او پر اساس یې اوسمهال د ترمینل ټولې چارې د طرحې مطابق د دغه وزارت له لوري مدیریت کېږي او عواید یې د امارت بودجې ته په شفاف ډول انتقالېږي.

## د ختیځ زون مسافر وړونکو وسایطو ترمینل

د ختیځ زون وسایطو لپاره ترمینل د څرخي پله په سیمه کې د کابل واټ ټرانسپورټ ریاست رئیس لخوا د کابل ښاروالۍ د مسؤلینو په حضور کې پرانېستل شو، دا ترمینل چې پخوا یې په یو شخصي ځای کې فعالیت کاوه، له شخصي ځای څخه دولتي ساحې ته ولېږدول شو. د ختیځ زون ټول مسافر وړونکي وسایط له یاد ترمینل څخه تګ راتګ کوي، د دې ترمینل په جوړېدو سره په ښار کې ګڼه ګوڼه کمه او ښاري منظم ټرانسپورټ فعالېدو ته لاره پرانېستل شوه. په پام کې ده چې یاد ترمینل کې به د مسافرینو او موټر چلونکو لپاره د پام وړ اسانتیاوې برابرې شي.

## د مرکزي ولایتونو لپاره ترمینل

دا ترمینل د کابل لوېدیځ د دشت برچي سړک په پای کې موقعیت لري چې د مرکزي ولایتونو مسافر له همدې ترمینل څخه تګ راتګ کوي. دا ترمینل د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت او ځمکې د مالک سره د یوې هوکړې پر اساس جوړ شوی دی. د دې ترمینل په جوړېدو سره په سیمه کې د ټولو نا قانونه او نامنظمو هډو مخنیوی وشو او د غزني، بامیان، میدان وردګو، غور او دایکنډې ولایتونو مسافر له همدې ترمینل څخه تګ و راتګ کوي.

## د پایتخت ترمینل

دا ترمینل د خیرخانې په سیمه کې په اساسي او معیاري ډول جوړ شوی او د څه باندې ۵۰۰ بسونو ظرفیت لري او په دغه ترمینل کې د مسافرو لپاره ۲٤ ساعته ټرانسپورټي خدمتونه ترسره کېږي.

ټول ټرانسپورټي شرکتونه له دغه ترمینل څخه د ورکړل شوې کرنلارې له مخې په سمه توګه کار اخلي او په ښار کې د بې نظمیو مخه نیول شوې. د پایتخت ترمینل جومات، انتظارخونه، د ټرانسپورټ مامورینو، پولیسو او ترافیکو لپاره دفاتر، ټکټ پلورنځی، ورکشاپ، د ټرانسپورټي وسایطو پارکینګ او رستورانټ خدمتونه وړاندې کوي. د شمال او شمال ختیځو ولایتونو مسافر له همدې ترمینل څخه ګټه پورته کوي.

## د بدخشان - کابل لین هډه

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت او د ځمکې د مالک تر منځ (د بدخشان ـ کابل لین) لویو مسافر وړونکو موټرو لپاره د یوې هډې د جوړولو هوکړه لاسلیک کړه. دا هډه د بدخشان ولایت د فیض اباد ښار په باغ شاه سیمه کې موقعیت لري. په دې هوکړه کې د ځمکې مالک مکلف شوی دی چې په دې هډه کې به ټول اړین تاسیسات جوړوي.

## د سمنګان هډه

دا هډه د سمنګان ولایت د ایبک په ښار کې مسافرینو ته د اسانتیاوو په موخه د دره صوف ولسوالۍ په مسیر کې په کابو شپږ جریبه ځمکه کې جوړه شوې ده، چې د ۳۰۰ موټرو د ځایولو ظرفیت لري، په دې هډه کې د اوبو او برېښنا اسانتیا موجوده ده او یو رستورانټ هم لري، په پام کې ده چې په دې هډه کې به دوکانونه، انتظار ځایونه، جومات او نور لازم امکانات هم رامنځته شي.

# د تېر کال او روان کال د لومړي فصل عواید

د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت چې يو خدماتي اوعايداتي وزارت دی، دوه عايداتي برخې لري، يوه يې د هوايي چلند برخه او بله يې د ځمکني ټرانسپورټ برخه ده. د دې وزارت د رهبری په پاملرنه او د عوايدو د برخې مسئولينو په پوره صداقت په ۱۴۰۱ کال کې د پام وړ عوايد د دې وزارت د عايداتي سرچينو څخه راټول او د اسلامي امارت خزانې ته ور زيات کړي دي، چې دا د تېر کال په پرتله (۲۲,۵) سلنه زياتوالی ښيي.

**د ۱٤۰۱ل کال ټول عوايد (۷،۵۵۹،۹۸۹،۰٦۰) افغانی راټول شوي دي، چې د ۱٤۰۰ل کال په پرتله پکې ۲۲,۵ سلنه زياتوالی راغلی دی.**

**د روان ۱٤۰۲ل کال او د ۱٤۰۱ل کال د لومړيو دريو مياشتو د عوايدو پرتله**

| مياشت | مجموعي عواید کال 1401 | مجموعي عواید کال 1402 | د عوايدو زياتوالی |
|---|---|---|---|
| د ورې مياشت په عوايدو کې د تېر کال په پرتله د عوايدو زياتوالی | 205،044،237 | 395،482،903 | 190،438،666 |
| د غويي مياشت په عوايدو کې د تېر کال په پرتله د عوايدو زياتوالی | 420،593،706 | 739،040،381 | 318،446،675 |
| د غبرگولي مياشت په عوايدو کې د تېر کال په پرتله د عوايدو زياتوالی | 513,093,876 | 749,879,658 | 236,785,782 |

# د چين هيواد لومړنۍ مسافر وړونکي الوتکه

د چين (C۹۱۹) لويې مسافر وړونکي الوتکه ۲۰۲۳ز د مۍ مياشتې په اته ويشتمه نېټه د سهار په ۱۰ بجو او ۳۲ دقيقو د شانګهای له هونګ چياو هوايي ډګر څخه هوا ته پورته او شاوخوا دري نيم ساعته مزل وروسته چې ۱۳۰ تنه مسافر پکې سپاره وو، د پلازمېنې بېجينګ په هوايي ډګر کې ښکته شوه. چين وايي (C919) الوتکه يې د نړيوالو معيارونو سره سمه جوړه کړې ده، دا الوتکه ۱۶۰ څوکۍ لري. د دې الوتکې لنډ نوم C919 دی، چې C يې د China مخفف لومړی توری دی.

چين د دې الوتکې څېړنه او ازموينه له ۲۰۰۶ز کال څخه راپدېخوا پيل کړې وه او اخېر د څه باندې لس کلنو هڅو وروسته وتوانېد، چې ياده الوتکه جوړه او د مسافرو د خدمت لپاره يې اماده کړې او دا دی، اوس يې پرې ملکي سوداګريزې الوتنې هم پيل کړې دي. د چين ختيځ هوايي شرکت په لومړي ځل په ۲۰۱۷ز کال کې په يادې الوتکې د الوتنې بريالی ازمويښتي ازموينه وکړه او د ۲۰۲۲ز کال په سپتمبر کې يې د چين د ملکي هوايي چلند اداري څخه جواز ترلاسه

کړ. د چين ختيځ هوايي شرکت وايي، چې په يادې الوتکې يې د ۲۰۲۲ز کال د ډسمبر له ۲۶مې نېټې څخه د ۲۰۲۳ز کال تر فبرورۍ پورې شاوخوا سل ساعته ازمويښتي ازموينې کړې دي او د روان کال د مۍ په ۲۸مې نېټې يې پکې په لومړي ځل مسافر ولېږدول او ملکي سوداګريز پروازونه يې پيل کړل. اېربس او بويينګ شرکتونه د نړۍ ګڼو هېوادونو ته لويې مسافر وړونکې الوتکې جوړوي او د هوايي چلند کرښې يې په خپل واک کې اخيستې دي، خو اوس باور دا دی، چې د چين(C919) الوتکې په جوړېدو سره ښايي په ملکي سوداګريزو الوتنو کې د لوېديځ اېربس او بويينګ شرکتونو انحصار ته زيان ورسېږي او چين په نړۍ کې درېيم هېواد شو، چې د لويو مسافروړونکو الوتکو د توليد توان لري.



# نو وطن بوله په شان د خپلې مور ته

لکه شمعه که ځان وسوزي په اور ته
نو به هله کړي رڼا مېنه او کور ته

په خولو يې د تندي که ابياري کړې
د وطن د گلو باغ به کړې سمسور ته

که په اور اوبو کې تېغ غوندې غوټه شې
نو په سر به د دښمن شې هله سور ته

لکه ونه که بار نکړې په سر پېټی
و به نه شيندې خوږه ميوه هر لور ته

که د باد په شان دې ځان کړ سرگردانه
نو به وچې کړې خولې له مخ د ورور ته

که د ځمکې هومره لوی يې حرکت کړه
تنبلي او سکون بوله لوی پيغور ته

د وطن آب و آبرو دي که شوه تويه
په سيالانو کې به سر جگ نکړې نور ته

دا اوبه چې ته يې څښې د وطن پې دي
نو وطن بوله په شان د خپلې مور ته

چا چې ايښې په دې تي درسره خوله ده
هغه خور او ورور گڼه د سترگو تور ته

په الفت به بيگانه او پردي خپل کړې
و به نکړې دغه کار په زر او زور ته.

گل پاچا الفت



مجله
# ترانسپورت و هوانوردی

علمي | معلوماتی | فرهنگی



@DChlnd ww.mota.gov.af انصاري واټ، کابل، افغانستان